Afghanistan Chamber of Commerce & Industries | Cell: 0774559666 | E-mail: info@acci.org.af | Website: www.acci.org.af

# د لیلام نړیوال نندارتون رسماً پرانېستل شو

وخت: د وری ۱۰ مه - ۱۳۹۵، ۱۰ بجې مخکې د غرمې

ځای: شهرنو، د فاریاب سوداګریز مرکز، کابل، افغانستان

د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو خونه او د کابل ګرین نندارېزمدیریتی شرکت په ګډه د لیلام نړیوال نندارتون رسماً پرانېستل شو.

دا نندارتون چې د وړي په د ۱۳۹۵ کال د وړي په۱۰ مه نېټه پرانیستل شوي وه د ۱۳۹۵ کال د وړي تر ۲۲ مې نېټې پورې به دوام وکړي.

په دې نندارتون کې ښاغلي الحاج محمد یونس مومند د سوداګرۍ او صنایعو خونې د مدیره پلاوي سوداګریز مرستیال، ښاغلی محمد قربان حقجو د سوداګرۍ او صنایعو وزارت سوداګریزمرستیال، او ښاغلي انجنېر محمد هاشم بایقرا د کابل ګرین مدیریتی نندارېز شرکت مشر خبرې وکړې.

په دې نندارتون کې د ترکیې او افغانستان تولیدي شرکتونه چې ټول ټال ۴۵ شرکتونه دي په ۷ مختلفو سکتورونو لکه خوراکي توکي، د کور وسایل او ضروریات، او لاسي صنایع او نور ورته توکي شامل دي خپل تولیدات نندارې ته وړاندې کړل.

ددې شرکتونو په ډله کې اته د خوراکي صنایعو شرکتونه، اته د لاسی صنایعو شرکتونه، پنځه د قالین صنایعو شرکتونه او یو د چاپ او بسته بندی شرکت، د بوټونو د تولید دوه شرکتونه یوه شفاخانه د افغانستان د خصوصي سکتور څخه خپل محصولات او خدمتونه نندارې ته وړاندې کړي دي.

ترکي شرکتونه لکه الکر، کمتل الکترونیک، د وینالدی د کور ضرورتونه، حلال خوراکي صنایع، ترکش مال شرکت او د الفا ترک بخاري، خوراکي توکي ، پوشاک او د کور د ضروریاتو په برخه کې خپل تولیدات نندارې ته وړاندې کړل.

دا نندارتون د لوی اختر د رارسېدو په ویاړ په لاره اچول شوي دی، ترڅو د یاد شرکتونو محصولات خلکو ته معرفي او په مناسب قیمت وړاندې شي.